هدف: *متر په سانتی، دیسی او ملی متر تبدیلول*

زده کړه

د یوه متر اجزاوی دیسی متر (dm) ، سانتی (cm) او ملی متر (mm) دی. کله چی غواړو متر په اجزاوو تبدیل کړو، نو هغه عدد په ۱۰، ۱۰۰ او ۱۰۰۰ ضرب کوو.



په یاد ولری.

کله چی یوه عدد په ۱۰ کی ضرب کوو نو صفر ورسره علاوه کوو.

کله چی یو عدد په ۱۰۰ کی ضرب کوو نو دوه صفرونو علاوه کوو.

کله چی یو عدد په ۱۰۰۰ کی ضرب کوو نو دری صفرونه علاوه کوو.

مثال:

٤ متر × ۱۰ = ٤۰ دیسی متر

٤ متر × ۱۰۰ = ٤۰۰ سانتی متر

٤ متر × ۱۰۰۰ = ٤۰۰۰ ملی متر

مشق:

۱- جوابونه او اړونده اجزاوی ولیکی.

الف: ۱۵ متر × = ۱۵,۰۰۰ ملی متر

ب: ۳۰ متر × ۱۰۰ =

ج: ۱۸۰ متر × = ۱۸۰۰ دیسی متر

د: ۷۰۰ دیسی متر × ۱۰ =

هـ: ٦۰ دیسی متر × = ٦۰۰۰ ملی متر

و: ٤۰۰ سانتی متر × ۱۰ =

۲- د یوه دیوار اوږدوالی ۱۲ متره دی. هغه په سانتی متر وښیایست.

۳- د یوه کور پراخوالی ۱۷ متره دی. تاسی هغه په دیسی متر تبدیل کړی.

٤- د یوه دیوار اوږدوالی ۱۲۰ دیسی متر دی. هغه په ملی متر څومره دی؟

۵- د یوه دیوار اوږدوالی ۱۳۰ متره دی. تاسی هغه په سانتی سره وښیاست.

هدف: د ملی متر څخه په سانتی متر، دیسی متر او متر سره یې واړول

زده کړه

چی کوچنی اجزاوی په لویو اجزاوو واړو، موږ یې په ۱۰، ۱۰۰ او ۱۰۰۰ تقسیم کوو.



په یاد ولری:

کله چی موږ یو عدد پر ۱۰، ۱۰۰ او ۱۰۰۰ ویشو، موږ د مقسوم څخه د مقسوم علیه په اندازه صفرونه سره اختصار کوو.

مثال:

۳۰۰۰ ملی متر ÷ ۱۰۰۰ = ۳ متر

۳۰۰۰ سانتی متر ÷ ۱۰۰ = ۳۰ متر

۳۰۰۰ دیسی متر ÷ ۱۰ = ۳۰۰ متر

مشق:

۱- د اجزاوو په بدلون سره نامعلوم عددونه ولیکی.

الف: ۴۵۰,۰۰۰ ملی متر ÷ = ۴۵۰ متر

ب: ۳۰۰ متر ÷ = ۳ متر

ج: ۳۰۰ دیسی متر ÷ = ۳۰ متر

د: ÷ ۱۰ = ٤ متر

هـ: ÷ ۱۰۰ = ۲۵ متر

و: ÷ ۱۰۰۰ = ۵ متر

۲- په متر سره یې واړوی.

الف: ۲۰۰۰۰ سانتی متر ÷ ۱۰۰۰ = متر

ب: ٤۵۰۰۰ سانتی متر ÷ ۱۰۰ = متر

ج: ۳۰۰ دیسی متر ÷ ۱۰ = متر

د: ۳٤۰۰۰۰ ملی متر ÷ ۱۰۰۰ = متر

هـ: ۱۸۰۰۰ سانتی متر ÷ ۱۰۰ = متر

و: ۱۲۰۰۰ دیسی متر ÷ ۱۰ = متر

۳- د یوه خط کش اوږدوالی ۱۰۰۰ ملی متره دی. تاسی هغه په متر سره وښیاست.

٤- د یوه دیوار اوږدوالی ۲۰۰۰ سانتی متره دی. هغه په متر سره څومره دی؟

۵- د یوه کور اوږدوالی ۲۲۰ دیسی متره دی. هغه په متر سره واړوی.

هدف: *داوږدوالی د اندازه کولو تکرار*

زده کړه

د زهرا د پورنی اوږدوالی ۲ متره دی. هغه په سانتی متر ولیکی.

۲ متر × ۱۰۰ = ۲۰۰ سانتی متر

هغی ۳۰۰۰ ملی متره فیته را نیوله چی د خپل پورنی پړشاوخوایې ولګوی. هغی څو متره فیته رانیوله؟

۳۰۰۰ ÷ ۱۰۰۰ = ۳ متره

مشق:

۱- د اندازه کولو واحد یې ولیکی.

الف: د یوی صفحی اوږدوالی

ب: د یوی کوټی اوږدوالی

۲- د واحد په بدلون سره جدول ډک کړی.

الف:	۳۷۱ متر	سانتی متر
ب:	۱٤۸۸ متر	دیسی متر
ج:	۳۹۷٤ متر	سانتی متر
د:	۳٤۳ متر	ملی متر

۳- د واحد په بدلون سره جدول ډک کړی.

الف:	۱۲۰۰ سانتی متر	متر
ب:	۲۷۰,۰۰۰ ملی متر	متر
ج:	۳,۸۰۰ دیسی متر	متر
د:	۲۹۸,۰۰۰ ملی متر	متر

٤- د یوی قالینی اوږدوالی ٦ متره دی. هغه اوږدوالی په ملی متر څومره دی؟

٥- د یوی فیتی اوږدوالی ۲,۵۰۰ سانتی متره دی. هغه اوږدوالی په مترونو څومره دی؟

هدف: د اوږدوالی د اندازه کولو ارزیابی

۱- د واحد په بدلون جدول بشپړه کړی.

الف:	۵ متر	ملی متر
ب:	۵۰ متر	دیسی متر
ج:	۸ متر	دیسی متر
د:	۳۰ متر	سانتی متر

۲- په متر سره یې واړوی.

الف: ۱۲۰,۰۰۰ ملی متر =

ب: ۱,۳٤۰,۰۰۰ سانتی متر =

ج: ۵۲,۰۰۰ دیسی متر =

د: ٤۲۰,۰۰۰ ملی متر =

هـ: ۳۲,۱۰۰ دیسی متر =

و: ۱٤۲,۰۰۰ سانتی متر =

۳- د واحد په بدلون سره جوابونه پیدا کړی.

الف: ۱۲۰۰ متر × ۱۰۰۰ =

ب: ۱۳,۵۰۰ متر × ۱۰۰ =

ج: ۱۲۰۰ متر × ۱۰ =

د: ۳۰,۰۰۰ ملی متر ÷ ۱۰۰۰ =

هـ: ۵۰۰۰ سانتی متر ÷ ۱۰۰ =

و: ۳۲۰۰ دیسی متر ÷ ۱۰ =

٤- د یوی تختی اوږدوالی ۲۰۰۰ ملی متر دی. هغه په متر ره وښیاست.

۵- دوی کوټی پراخوالی ۳۰ دیسی متر دی. هغه په متر سره واړوی.

٦- دیوه دیوار اوږدوالی ۲۵ متره دی. هغه په ملی متر سره څومره دی؟

۷- دیوی ونی جګوالی ۲۰ متره دی. هغه په سانتی متر سره څومره دی؟

هدف: د کیلومتر د اجزاوو معرفی کول

زده کړه

کیلو متر د اوږدوالی د اندازه کولو لپاره دی. یو کیلومتر کوچنی اجزاوی هم لری.

دیکا متر (dcm)، هکتو متر (hm) او متر (m)

۱ کیلومتر = ۱۰ دیکامتر

۱ کیلومتر = ۱۰۰ هکتو متر

۱ کیلومتر = ۱۰۰۰ متر

موږ کیلومتر د اوږدو فاصلو د اندازه کولو لپاره استعمالوو، لکه د ښارونو ترمینځ فاصله

مشق:

۱- د واحد په بدلون سره جدول بشپړه کړی؟

الف:	۱ کیلومتر	متر
ب:	۲ کیلومتر	متر
ج:	۳ کیلومتر	متر
د:	٤ کیلومتر	متر

۲- کوم یو مناسبه اندازې ښیئ، الف یا ب.

(۱) د کور او ښوونځی ترمینځ فاصله — الف: سانتی متر — ب: کیلومتر

(۲) د یوه موتر د سفر فاصله — الف: متر — ب: کیلومتر

(۳) د فتبال د لوبو میدان اوږدوالی — الف: کیلومتر — ب: متر

(٤) د ښوونکی د میز اوږدوالی — الف: کیلومتر — ب: متر

۳- جملې بشپړی کړی. متر یا کیلومتر ولیکی.

الف: د دوو ښارونو ترمینځ فاصله ۸۵ _____ ده.

ب: د یوی قالینی اوږدوالی ۲ _____ دی.

ج: د کابل او جلال آباد ترمینځ د سړک اوږدوالی ۱۵۰ _____ دی.

د: د یوه ټولګی د کوټې اوږدوالی ۵ _____ دی.

هدف: په هکتومتر، دیکامتر او متر سره د کیلومتر بدلول

زده کړه

د دې لپاره چې یو کیلومتر په کوچنیو برخو تبدیل کړو، نو په ۱۰، ۱۰۰ او ۱۰۰۰ کې یې ضرب کوو.



په یادولرې!

کله چې په ۱۰ کې ضرب کوو، نو یو صفر (۰) علاوه کوو.

کله چې په ۱۰۰ ضرب کوو، نو دوه صفر (۰۰) علاوه کوو.

کله چې په ۱۰۰۰ ضرب کوو، نو درې صفر (۰۰۰) علاوه کوو.

مثال: ۵ کیلومتر × ۱۰ = ۵۰ دیکامتر

۵ کیلومتر × ۱۰۰ = ۵۰۰ هکتومتر

۵ کیلومتر × ۱۰۰۰ = ۵۰۰۰ متر

مشق:

۱- جوابونه یې پیدا کړی.

الف: ۱٤ کیلومتر × ۱۰۰۰ =

ب: ۱۲ کیلومتر × ۱۰ =

ج: ۱۲۰ کیلومتر × ۱۰ =

د: ۱۹ هکتومتر × ۱۰ =

هـ: ۱۷ هکتومتر × = ۱۷۰۰ متر

و: ۱۸۰ کیلومتر × = ۱۸,۰۰۰ دیکامتر

ز: ۱۲۱ دیکامتر × = ۱۲۱۰ متر

ح: ۱۹۰ هکتومتر × = ۱۹۰۰ دیکامتر

ط: ۱۲۲ دیکامتر × ۱۰ = متر

ی: ۲۵ کیلومتر = دیکامتر

ک: ۱۸۱ هکتومتر = متر

۲- دوه سړک اوږدوالی ۱۲۰ کیلومتره دی. هغه په متر سره څومره اوږد دی؟

۳- د جلال آباد او تورخم ترمینځ فاصله ۷۵ کیلومتره ده. هغه په دیکامتر معلومه کړی.

٤- د کندهار او ترین کوټ ترمینځ فاصله ۱۰٤ کیلومتره ده. هغه په هکتومتر څومره ده؟

هدف: د متر څخه په دیکامتر، هکتومتر او کیلومتر تبدیلول

زده کړه

د کیلومتر د کوچنی برخو په لویو برخو د تبدیلولو لپاره ۱۰، ۱۰۰ او ۱۰۰۰ تقسموو.

کیلومتر	هکتومتر	دیکامتر	متر

÷ ۱۰

÷ ۱۰۰

÷ ۱۰۰۰

۱ متر = $\frac{۱}{۱۰}$ دیکامتر

۱ دیکامتر = $\frac{۱}{۱۰}$ هکتومتر

۱ هکتومتر = $\frac{۱}{۱۰}$ کیلومتر

مشق:

۱- د واحد په بدلولو سره نامعلوم عددونه ولیکی.

الف: ۲۳۰,۰۰۰ متر ÷ ۱۰۰۰ =

ب: ۵۳,۰۰۰ هکتومتر ÷ ۱۰ =

ج: ۵,۶۰۰ دیکامتر ÷ ۱۰۰ =

د: ۲۳,۰۰۰ متر ÷ ۱۰۰۰ =

هـ: ۳۱,۰۰۰ دیکامتر ÷ ۱۰۰ =

و: ۸,۲۰۰ هکتومتر ÷ ۱۰ =

۲- په جدول کی واحدونه تبدیل کړی.

متر	دیکامتر	هکتومتر	کیلومتر
۲٤۰,۰۰۰			
			۵۰
		٤۰۰	
	۲۱,۰۰۰		
			۲۱
		۱۵,۰۰۰	

۳- د یوی کوڅی اوږدوالی ۳۰۰۰ متره دی. هغه په کیلومتر څومره دی؟

٤- د جلال آباد او تورخم ترمینځ د سړک اوږدوالی ۷۵,۰۰۰ متره دی. هغه اوږدوالی په کیلومتر وښیاست.

هدف: *د فاصلې د اندازه کولو د واحدونو تکرار*

زده کړه

د پلخمرۍ او شیرخان بندر ترمینځ د سړک اوږدوالی ١٦٥٠٠٠ متره دی، هغه په کیلومتر وښیاست.

١٦٥٠٠٠ ÷ ١٠٠٠ = ١٦٥ کیلومتر

مشق:

١- د واحد په بدلولو سره جوابونه پیدا کړی.

الف: ٥٤ کیلومتر × ١٠٠ =

ب: ٢٩ هکتومتر × ١٠ =

ج: ٥١٠,٠٠٠ متر ÷ ١٠٠٠ =

د: ٧٢,٠٠٠ سانتی متر ÷ ١٠٠ =

هـ: ١,٢٠٠ هکتومتر ÷ ١٠ =

و: ٣٢٠ کیلومتر × ١٠٠٠ =

٢- په متر بې واړوئ.

الف: ٣٢ کیلومتر × ١٠٠٠ =

ب: ٧٣ کیلومتر × ١٠٠٠ =

ج: ١١ کیلومتر × ١٠٠٠ =

٣- په کیلومتر یې واړوی.

د: ١٢,٠٠٠ متر =

هـ: ٣٠,٠٠٠ متر =

و: ١٥٠,٠٠٠ متر =

٤- د یوه باغ اوږدوالی ١٠٠٠ متره دی. هغه اوږدوالی په کیلومتره څومره دی؟

٥- د یوې کوڅې اوږدوالی ٤ کیلومتره دی هغه په متر څومره دی؟

٦- د جلال آباد او اسعد آباد ترمینځ سړک ٨٥,٠٠٠ متره دی. هغه په کیلومتر څومره دی؟

٧- د یوه سړک اوږدوالی ٤٢٠ کیلومتره دی. هغه په متر څومره دی؟

هدف: د اوږدوالی د اندازه کولو ارزیابی

۱- کوم یو ښه اندازه ښیئ.

(۱) دکور څخه تر بازاره فاصله الف: ۵ سانتی متر ب: ۵ کیلومتر

(۲) د یوی قالین اوږدوالی الف: ۲ کیلومتر ب: ۲ متر

۲- د واحدونو په محاسبی سره جدول بشپړ کړی.

کیلومتر	هکتومتر	دیکامتر	متر
		۸۰۰	
۳۸۰			
	۸۹۰۰		
			۷۵۰,۰۰۰

٤- د جلال آباد او کابل ترمینځ فاصله ۱۵۰ کیلومتر ده . هغه په دیکامتر وښیاست.

۵- د یوه زراعتی فارم اوږدوالی ۳۰,۰۰۰ متره دی. هغه په کیلومتر څومره دی؟

هدف: د کیلوګرام او ګرام معرفي کول

زده کړه

مور د کوچینی (سپکو) شیانو د اندازه کولو لپاره ګرام (g) استعمالوو.

مثال: د یوه متوسط د کاغذ ګیرا وزن یو ګرام دی. مور د درندو شیانو د وزن د اندازه کولو لپاره کیلوګرام استعمالوو. د یوه کتاب وزن یو کیلوګرام دی.



مشق:

۱- مناسب وزن انتخاب او ویې لیکی.

(۱) د یوی جوړی بوټونو وزن — الف: ۱ ګرام — ب: ۱ کیلوګرام

(۲) د عکس د چوکاټ وزن — الف: ۱۵۰ ګرام — ب: ۱۵۰ کیلوګرام

(۳) د یوه بایسکل وزن — الف: ۲۰ ګرام — ب: ۲۰ کیلوګرام

(٤) د یوی مجلی وزن — الف: ۲۰۰ ګرام — ب: ۲۰۰ کیلوګرام

۲- بشپړیې کړی ګرام یا کیلوګرام ولیکی.

الف: د یوه کتاب وزن ۱ _____ دی.

ب: د یوه قلم وزن تقریباً ۵ _____ دی.

ج: د یوی مجلی وزن تقریباً ۲۰۰ _____ دی.

د: د یوه بایسکل وزن تقریباً ۲۰ _____ دی.

٤- جدول کاپی کړی او بیا نامعلوم عددونه په جدول کی ولیکی.

الف:

٥٦١٧			٥٦١٤		٥٦١٢

ب:

٤١٢٢١		٤١٢١٩			٤١٢١٦

ج:

			٢١٢٢٠١		٢١٢١٩٩

٥- د حلقه شوی رقم مقامی قیمت ولیکی.

الف: ٦١٥ (٨) ب: ٥٦ (٢) ١ ج: ١٢١١٦ (٣) د: ١٦ (٥) ٢١٦

٦- لاندی عددونه ولیکی.

الف: څلور سوه او یولس زره دوه سوه او دوولس

ب: دری سوه زره نه سوه او یو

٧- اسد ٨٠٦,٧٨٢ افغانی درلودلی. هغه کابل ته ولاړ او یوه بایسکل یې په ٦٥٢,٨٦٣ افغانی رانیوی. اوس اسد څومره پیسی لری؟

٨٠٦٧٨٢

- ٦٥٢٨٦٣

٨- په افغانستان ٥٦٠,٨٤٧ تنه ماشومان دی چې باید واکسین شی. یونیسف په لومړی مرحله کی یوازی ٣٠٨,٥٥٣ تنه ماشومان واکسین کولای شی. تاسی د هغو ماشومانو شمیر معلوم کړی چې باید په دوهمه مرحله کی واکسین شی.

٩- اکبر یوه غوا په ٦٣٦,٠٠٠ افغانیو رانیوله. هغه ١٣٠,٠٠٠ افغانی د هغی پر خوراکی موادو مصرف کړی. وروسته بیا هغه خپله غوا په ٩٤٢,٥٦٠ افغانیو بیرته خرڅه کړه. اوس اکبر د ګټې اندازه معلومه کړی.

هدف: د کیلوګرام څخه په ګرام او له ګرام څخه په کیلوګرام تبدیلول

زده کړه

په ګرام سره د کیلوګرام د بدلولو لپاره مونږ عدد په ۱۰۰۰ کې ضرب کوو، لکه چه ښودل شوی دی:

کیلوګرام	ګرام

× ۱۰۰۰

د دې لپاره چه ګرامونه په کلوګرام تبدیل کوو هغه پر ۱۰۰۰ تقسیموو، لکه چه ښودل شوی دی.

ګرام .	کیلوګرام

÷ ۱۰۰۰

مشق:

۱- جوابونه یې په واحد سره ولیکی.

الف: ۹۵ کیلوګرام × ۱۰۰۰ =

ب: ۱۰۲ کیلوګرام × ۱۰۰۰ =

ج: ۲۰۳ کیلوګرام × ۱۰۰۰ =

د: ۳۲٤ کیلوګرام × ۱۰۰۰ =

۲- جوابونه یې په واحد سره ولیکی.

الف: ۸٦,۰۰۰ ګرام ÷ ۱۰۰۰ =

ب: ۱۰۲,۰۰۰ ګرام ÷ ۱۰۰۰ =

ج: ۲۲۵,۰۰۰ ګرام ÷ ۱۰۰۰ =

د: ۳۱۲,۰۰۰ ګرام ÷ ۱۰۰۰ =

هـ: ۳۱۸,۰۰۰ ګرام ÷ ۱۰۰۰ =

۳- جوابونه یې په واحد سره ولیکی.

الف: ۱۸ کیلوګرام × = ۱۸,۰۰۰ ګرام

ب: ۲۰۸ کیلوګرام × ۱۰۰۰ =

ج: ۱۳۰ کیلوګرام × = ۱۳۰,۰۰۰ ګرام

د: ۱۲۱ کیلوګرام × ۱۰۰۰ =

هـ: ۲۳۰ کیلوګرام × = ۲۳۰,۰۰۰ ګرام

٤- کیلوگرام په گرام سره واړوی.

الف: ۱۱,۰۰۰ گرام = کیلوگرام

ب: ۲۰۹,۰۰۰ گرام = کیلوگرام

ج: ۲۱۷,۰۰۰ گرام = کیلوگرام

د: ۳۰۳,۰۰۰ گرام = کیلوگرام

۵- گرام په کیلوگرام سره واړوی او د جدول خالی حایونه ډک کړئ.

۱۸,۰۰۰ گرام	÷		=	۱۸ کیلوگرام
۱۲٤,۰۰۰ گرام	÷	۱۰۰۰	=	
۱۰۸,۰۰۰ گرام	÷		=	۱۰۸ کیلوگرام
۳٤,۰۰۰ گرام	÷	۱۰۰۰	=	
۲۰۸,۰۰۰ گرام	÷		=	۲۰۸ کیلوگرام
۱٤,۰۰۰ گرام	÷	۱۰۰۰	=	

٦- د یو بایسکل وزن تقریباً ۲۰ کیلوگرام دی. هغه وزن په گرام سره تبدیل کړی.

۷- د یو چوکی وزن ۸۰۰۰ گرام دی. هغه په کیلوگرام سره وښایاست.

۸- د یو میز وزن تقریباً ۲۵ کیلوگرام دی. هغه په گرام سره واړوی.

۹- د ۸ کتابونو وزن ۱۷۰۰۰ گرام دی. هغه په کیلوگرام سره وښایاست.

هدف: د وزن اندازه کولو د واحدونو تکرار ګرام او کیلوګرام

زده کړه

۱) زمرک ۵۲ کیلوګرامه وزن لري. د هغه وزن په ګرامونو څومره دی؟
۵۲ کیلوګرام × ۱,۰۰۰ = ۵۲,۰۰۰ ګرام
۲) یو فیل مرغ ۱۰,۰۰۰ ګرام وزن لري. هغه په کیلوګرام څومره دی؟
۱۰,۰۰۰ ګرام ÷ ۱,۰۰۰ = ۱۰ کیلوګرام

مشق:

۱- واحدونه تبدیل کړی.

الف: ۵ کیلوګرام = ګرام
ب: ۸۲ کیلوګرام = ګرام
ج: ۲۰۰۰ ګرام = کیلوګرام
د: ۸۰۰۰ ګرام = کیلوګرام
هـ: ۰.۵ کیلوګرام = ګرام
و: ۳۰۰۰ ګرام = کیلوګرام
ز: ٤ کیلوګرام = ګرام

۲- واحدونه تبدیل او جدول بشپړ کړی.

	کیلوګرام	ګرام
الف:	۵۰	
ب:		۲۳۰,۰۰۰
ج:	٤۰	
د:	١٤	
هـ:		۲۰,۰۰۰
و:	۹۲	

	کیلوګرام	ګرام
ز:		٦۲,۰۰۰
ح:	۱۵۱	
ط:		٤٤,۰۰۰
ی:	۸۲	
ک:		۳٤۰,۰۰۰

۳- جوابونه یې پیدا او واحد یې ولیکی.

الف: ۵۵ کیلوګرام × ۱۰۰۰ =
ب: ۲۲,۰۰۰ ګرام ÷ ۱۰۰۰ =
ج: ۲۵ کیلوګرام × ۱۰۰۰ =
د: ٤۲۰,۰۰۰ ګرام ÷ ۱۰۰۰ =

٤- پرویز ۵۳ کیلوګرامه وزن لري. هغه په ګرام واړوی.

۵- مریم ٤,۰۰۰ ګرامه وزن وړلای شي. هغه په کیلوګرام سره څومره دی؟

٦- د یوه بکس وزن ۲۰ کیلوګرامه دی. هغه په ګرام سره څومره دی؟

۷- د یوه میز وزن ۲۰,۰۰۰ ګرامه دی. د هغه میز وزن په کیلوګرام سره څومره دی؟

هدف: *د وزن د اندازه کولو ګرام او کیلوګرام په هلکه ارزیابی*

۱- هغه ښه تخمین د وزن انتخاب کړی.

(۱) د یوه کتاب وزن الف: ۲۰۰ ګرام ب: ۲۰۰ کیلوګرام

(۲) د یوه تلویزیون وزن الف: ۲۰ کیلوګرام ب: ۲۰ ګرام

۲- واحدونه یو په بل سره تبدیل کړی.

	ګرام		کیلوګرام
الف:	۱۸۰,۰۰۰	=	
ب:		=	۳۹
ج:	۷,۹۳۰,۰۰۰	=	
د:		=	۱۲۹

۳- د یوه بالا پوښ وزن ٤ کیلوګرامه دی. هغه په ګرام سره محاسبه کړی.

٤- د یوه کتاب وزن ۲,۰۰۰ ګرامه دی. هغه په کیلوګرام سره وښیاست.

هدف: د لیتر د اجزا وو معرفی کول

زده کړه

لیتر د مایعاتو د ظرفیت د اندازه کولو واحد دی.

۱ لیتر = ۱۰۰۰ ملی لیتره

یوه جګ په متوسطه توګه یو لیتر (/) اوبه نیسی. د سترګو قطره چکان یو ملی لیتر (/) مایع ظرفیت لری.

لیتر

ملی لیتر

مشق:

۱- ملی لیتر او یا لیتر ولیکی.

الف: د کالو پر مینځلو ماشین تقریباً ۵۰ ـــــ اوبه نیسی.

ب: د شیدو یو ګیلاس تقریباً ۲۵۰ ـــــ ظرفیت لری.

ج: د لامبو وهلو حوض ۱۰۰,۰۰۰ ـــــ اوبه نیسی.

د: د غوړو یوه قطی ۵ ـــــ غوړی نیسی.

هـ: د مرغانو د قفس بوتل ٤۰ ـــــ اوبه ظرفیت لری.

و: په سطل کې تقریباً ۲ ـــــ اوبه شته.

هدف: *د لیتر او مې لیتر په یو بل سره بدلول*

زده کړه

ددی لپاره چه لیتر په ملی لیتر سره تبدیل کړو، نو هغه په ۱۰۰۰ کی ضرب کوو.

ملی لیتر	لیتر

× ۱۰۰۰

مثال: ۳ لیتر په ملی لیتر سره بدل کړی.

۳ لیتر × ۱۰۰۰ = ۳۰۰۰ ملی لیتر

چی ملی لیتر په لیتر تبدیل کرو، نو مونږ یې پر ۱۰۰۰ تقسیم کوو لکه چه ښودل شوی دی.

ملی لیتر	لیتر

÷ ۱۰۰۰

مثال: ۳۰۰۰ ملی لیتره په لیتر تبدیل کړی.

۳۰۰۰ ملی لیتر ÷ ۱۰۰۰ = ۳ لیتر

مشق:

۱- په ملی لیتر سره یې تبدیل کړی.

الف: ۲ لیتر =
ب: ۸ لیتر =
ج: ۱۷ لیتر =
د: ۱۲ لیتر =
هـ: ۱۰۱ لیتر =
و: ۱۵ لیتر =

۲- د واحد په بدلولو سره، جدول بشپړه کړی.

ملی لیتر				لیتر
۴,۰۰۰	÷		=	۴
۲۵,۰۰۰	÷	۱۰۰۰	=	
۱۳,۰۰۰	÷		=	۱۳
۱۹,۰۰۰	÷	۱۰۰۰	=	
۱۸,۰۰۰	÷		=	۱۸

۳- په ملي لیتر سره یې تبدیل کړی.

الف: ۲٤۰ لیتر × ۱,۰۰۰ =

ب: ۱۰۱ لیتر × ۱۰۰۰ =

ج: ۵۰۱ لیتر × ۱۰۰۰ =

د: ۱۰۰۰ لیتر × ۱۰۰۰ =

٤- د واحد په بدلولو سره، جدول بشپړه کړی.

۲٤,۰۰۰ ملی لیتر	÷	۱۰۰۰	=	
۱۰۱,۰۰۰ ملی لیتر	÷		=	۱۰۱ لیتر
۱۹,۰۰۰ ملی لیتر	÷	۱۰۰۰	=	
۲۱۲,۰۰۰ ملی لیتر	÷		=	۲۱۲ لیتر
٤۲۸,۰۰۰ ملی لیتر	÷	۱۰۰۰	=	

۵- واحدونه تبدیل کړی.

ملی لیتر	لیتر
٦۸,۰۰۰	
	۱۲٦
۱۹۰,۰۰۰	
	۱۲۱
۲۲,۰۰۰	

٦- ملی لیتر یا لیتر ولیکی.

الف: د رنګ یو لویه قطی ٤ _____ رنګ نیسی.

ب: د کالو د مینځلو ماشین ۸۰ _____ اوبه نیسی.

ج: د اوبه سلواغه ۸,۰۰۰ _____ اوبه نیسی.

د: د شربتو یو جګ ۱۲,۰۰۰ _____ شربت نیسی.

هدف: د ظرفیت د اندازه کولو تکرار

زده کړه

یو لوښی ۲۰ لیتره اوبه نیسی. هغه په ملی لیتر واړوی.

۲۰ لیتر × ۱۰۰۰ = ۲۰,۰۰۰ ملی لیتر

د اوبو یو بوتل ۲۰۰۰ ملی لیتره اوبه نیسی هغه په لیتر واړوی:

۲,۰۰۰ ملی لیتر = ۲,۰۰۰ ÷ ۱,۰۰۰ = ۲ لیتر

مشق:

۱- په ملی لیتر سره یې واړوی.

الف: ۳ لیتر = ملی لیتر
ب: ٦ لیتر = ملی لیتر
ج: ۷ لیتر = ملی لیتر
د: ۹ لیتر = ملی لیتر

۲- نامعلوم عددونه پیدا او ویې لیکی.

الف: ۲ لیتر × = ۲,۰۰۰ ملی لیتر
ب: ۱۲,۰۰۰ ملی لیتر ÷ = ۱۲ لیتر
ج: ۲۷ لیتر × = ۲۷,۰۰۰ ملی لیتر
د: ۵۳۰,۰۰۰ ملی لیتر ÷ = ۵۳۰ لیتر

۳- واحدونه تبدیل او جدول بشپړ کړی.

لیتر		ملی لیتر
	=	٤,۰۰۰
۲۷	=	
	=	۷۲,۰۰۰
۱۹۸	=	

٤- د تیلو یو ټانکر ۷۰۰ لیتره تیل نیسی. هغه په ملی لیتر واړوی.

۵- د شیدو یو لوی لوښی ۲۵,۰۰۰ ملی لیتره شیدی نیسی. هغه په لیتر واړوی.

هدف: د ظرفیت د اندازې ارزیابی

۱- واحدونه یو په بل سره واړوی.

الف: ۱ لیتر = ملی لیتر
ب: ۳,۰۰۰ ملی لیتر = لیتر
ج: ۵ لیتر = ملی لیتر
د: ۸,۰۰۰ ملی لیتر = لیتر

۲- واحدونه یو په بل سره واړوی.

	لیتر	ملی لیتر
الف:	۵۰	
ب:		۱۰۲,۰۰۰
ج:	۲۸	
د:		۳۲,۰۰۰
هـ:	۹۲	

	لیتر	ملی لیتر
و:		۱۹۰,۰۰۰
ز:	۴۹	
ح:		۹۸,۰۰۰
ط:	۶۹	
ی:		۵۱,۰۰۰

۳- نا معلوم عددونه پیدا کړی.

الف: ۸۰,۰۰۰ ملی لیتر ÷ ۱,۰۰۰ =
ب: ۱۴۲ لیتر × = ۱۴۲,۰۰۰ ملی لیتر
ج: ۵۴ لیتر × ۱,۰۰۰ =
د: ۲۱۰,۰۰۰ ملی لیتر ÷ = ۲۱۰ لیتر
هـ: ۲۰۵,۰۰۰ ملی لیتر ÷ ۱,۰۰۰ =
و: ۸۰۹,۰۰۰ ملی لیتر ÷ = ۸۰۹ لیتر
ز: ۲۰۲,۰۰۰ ملی لیتر ÷ ۱۰۰۰ =
ح: ۱۰۹,۰۰۰ ملی لیتر ÷ = ۱۰۹ لیتر
ط: ۲۹ لیتر × ۱,۰۰۰ =
ی: ۳۵ لیتر × = ۳۵,۰۰۰ ملی لیتر

هدف: قمری جنتری معرفی کول

زده کړه

په اسلامی هیوادو کې قمری جنتري استعمالیږی، هغه دوولس میاشتی لری.

محرم الحرم، صفر المظفر، ربیع الاول، ربیع الاخر، جمادی الاول، جمادی الاخر، رجب المرجب، شعبان المعظم، رمضان المبارک، شوال المکرم، ذی القعده، ذولحجه الحرام

قمری کال ۳۵٤ ورځی لری.

مشق:

۱- لاندینیو پوښتنو ته جواب ورکړی.

الف: په یوه قمری کال کی څو میاشتې شته؟

ب: په یوه قمری کال کی څو ورځې شته؟

۲- وروستی میاشت یې ولیکی.

الف: محرم الحرام

ب: ربیع الاول

ج: جمادی الاخر

د: رمضان المبارک

۳- ترمخه میاشت یې ولیکی.

الف: رمضان المبارک

ب: جمادی الاول

ج: ربیع الاول

د: ذوحجة الحرام

هدف: د حاصل سره د ۵ او ٦ رقمی عددونو د جمع تکرار

زده کړه



مشق: جمع ئی کړی.

الف:



ب:



۲- لاندنی عددونه جمع کړی.

مثال:

یویزونه	لسیزونه	سلیزونه	زریزونه	لس زریزونه	سل زریزونه
۳	۸	٦	۵	.	٦
۹	.	۵	.	٤	.
۲	۹	۱	٦	٤	٦

+

الف:

۵	٦	.	۸	۲
٤	.	۲	۳	.

+

ب:

۵	.	۷	.	۳
۹	۲	٤	۵	.

+

ج:

۱	۵	.	۳	.	۷
.	٦	٤	۷	۳	۲

+

۳- احمد یوه غوا په ٦۸۳ , ٦۰۵ افغانیو رانیوله. هغه همدارنګه د خپل زوی لپاره یو چرګ په ۵۰۹ , ٤۰ افغانیو رانیوی. احمد څومره پیسی خرڅی کړی؟

هدف: د موسمونو او حرارت معرفي کول

زده کړه

په یوه کال کې څلور مووسمونه شته. پسرلی، اوړی، منی او ژمی. موږ د حرارت درجه د سانتی ګریډ (c.) په درجه اندازه کوو او د ترمامیتر څخه کار اخلو. د ترمامیتر آله د ۱۰، ۱۰ درجو په فاصله ښودل کېږي. مثلاً. ۱۰، ۲۰، ۳۰ او داسې نور تر ۱۰۰ پورې. موږ هغه درجه چې اوبه یخې کیږي، هغې ته صفر (0 .c) درجه د سانتی ګریډ وایو.

د حرارت درجه یا هوا په:

پسرلی او منی کې معتدل،

اوړی کې ډېر ګرم،

او ژمی کې یخ وي.



لارښود

یخ:	تر ۱۰ درجه سانتی ګریډ کښته
معتدل:	د ۱۰ څخه تر ۲۱ درجه سانتی ګریډ
ګرم:	د ۲۱ څخه تر ۳۵ درجه سانتی ګریډ
ډېر ګرم:	د ۳۵ درجه سانتی ګریډ څخه پورته

مشق: د لاندې شپانو لپاره ډېر ورته درجه د حرارت انتخاب کړی. (الف، ب، یا ج)

۱- اوبه یخې کیږي:	الف: ۳۰ سانتی ګریډ	ب: ۲۰ سانتی ګریډ	ج: ۰ سانتی ګریډ
۲- د باغ د کښت وخت:	الف: ۲۵ سانتی ګریډ	ب: ۰ سانتی ګریډ	ج: ۵ سانتی ګریډ
۳- ونې بلګونه رزوي:	الف: ۲۵ سانتی ګریډ	ب: ۵ سانتی ګریډ	ج: ۴۰ سانتی ګریډ
۴- د ژمی د بالا پوښ اغوستلو وخت:	الف: ۷۵ سانتی ګریډ	ب: ۱ سانتی ګریډ	ج: ۲۸ سانتی ګریډ
۵- پر ډنډ باندې د یخې د بوټو لوبې کول:	الف: ۲۰ سانتی ګریډ	ب: ۴۰ سانتی ګریډ	ج: ۰ سانتی ګریډ
۶- اوبه جوشیږي:	الف: ۸۵ سانتی ګریډ	ب: ۱۰۰ سانتی ګریډ	ج: ۹۰ سانتی ګریډ

۷- د حرارت درجه په ۱۲ بجې کې د سانتی ګریډ ۴۰ درجې وه. په ۳ بجې د ماسپښین کې باران وشو او ۱۵ درجې ښکته وغورځیده. تاسو معلومه کړی چې د حرارت درجه په ۳ بجې کې څومره وه؟

۸- د حرارت درجه د سهار په ۶ بجو کې د سانتی ګریډ ۱۰ درجه وه او د غرمې ۱۲ بجو پورې، ۲۰ درجې پورته لاړه او د ماسپښین ۲ بجو پورې ۱۲ درجې نور هم پورته شو. او وروسته د دغه ۱۵ درجې پورې بیرته راښکته شوه. معلومه کړی چې د حرارت درجه د شنبې په ۸ بجو کې څو وه؟

هدف: *د اوونۍ د ورځو تکرار*

زده کړه

یوه هفته ۷ ورځې لري. د هفتې ورځې عبارت دي له:
شنبه، یکشنبه، دوشنبه، سه شنبه، چهارشنبه، پنجشنبه، جمعه

مشق:

۱- یوه اوونۍ څو ورځې لري؟

۲- نن ورځ سه شنبه ده، سبا به کومه ورځ وي؟

۳- نن ورځ سه شنبه ده.. پرون کومه ورځ وه؟

٤- تر درکړه شوو ورځو وروسته ورځ ولیکئ؟

الف: دوشنبه ب: چهارشنبه ج: یکشنبه د: پنجشنبه

هـ: شنبه و: سه شنبه ز: جمعه

٥- تر لاندې ورځو مخکې ورځ ولیکئ؟

الف: شنبه ب: سه شنبه ج: یکشنبه

٦- هغه ورځې چې د درکړه شوې ورځې څخه دوه ورځې وروسته راځي، ولیکئ.

الف: چهارشنبه ب: دوشنبه ج: جمعه د: یکشنبه

هـ: شنبه و: سه شنبه ز: پنجشنبه

۷- د مریمې مور هغې لپاره د دوه ورځې مخکې یوه جوړه بوټونه رانیول. نن ورځ جمعه ده. هغې په کومه ورځ بوټونه رانیول؟

۸- مور د دوو ورځو په تړخ کې لوګرته ځي. نن ورځ پنجشنبې ده. په کومه ورځ به مور لوګر ته ولاړ شي؟

هدف: د وخت تکرار

زده کړه

د وخت د اندازه کولو لپاره د ساعت څخه کار اخیستل کیږی.

کوچنی عقربک ساعت ښیئ.

اوږد د عقربک دقیقی ښیئ.

یو ساعت ۶۰ دقیقی دی.



مثال:



۹:۳۰



۶:۱۵



۳:۰۵



۲:۰۰

مشق:

۱- د مثال له زویه وخت ولیکئ.

الف:



۹:۳۰

ب:



ج:



د:



هـ:



و:

ز:



ح:



۲- لاندې د شکیلا د کار کولو تقسیم اوقات دی. د شکیلا د هر کار وخت ولیکی؟

الف: چرګانو ته دانه ورکوی.



د: اوبه راوړی.



ب: خپله کوټه پاکوی.



هـ: کورنی کار کوی.



ج: د غرمی ډوډی لپاره ځی.



و: د ماښام ډوډی خوری.

۳- وخت یې ولیکی.

الف: تر ۹:۳۰ بجو یو ساعت وروسته

ب: تر ۵:۲۰ دری ساعت وروسته

ج: ۶:۱۵ څلور ساعته وروسته

د: تر ۶:۰۵ شپږ ساعته وروسته

٤- ننګیالی د سهار ناشتا پر ۷:۱۰ وخوړله. هغه یو ساعت وروسته ښوونځی ته ولاړ.
هغه څه وخت ښوونځی ته ورسیدی؟

۵- رابعی خپله نقاشی د ماسپښین پر ۳:٤۰ شروع کړه. هغی خپل کار دوه ساعته وروسته بشپړه کړه.
هغی څه وخت خپله نقاشی خلاصه کړه؟

٦- فاطمه مغازی ته د ماسپښین پر ۲:۵۰ بجو ولاړه. هغه یو ساعت وروسته بیرته خپل کورته راغله.
هغه پر څو بجو کورته راغله؟

هدف: د وخت د واحدونو تکرار

زده کړه

ورمه د ۱٤۱٥ کال د جمادی الاول په میاشتی کی د یکشنبی په ورځ د سهار پر ۸:٤٥ زیږیدلی وه.

	کال	میاشت	ورځ	وخت
د ورمی کالیزه	۱٤۱٥	جمادی الاول	یکشنبه	۸:٤٥

مور د وخت اړده زمانه په کلونو سره اندازه کوو.
متوسط وخت په میاشتو سره ښیوو.
لنډ وخت په ورځو سره اندازه کوو.
ډیر لنډ وخت په ساعتونو او دقیقو سره اندازه کوو.

مشق:

۱- لاندنی سوالونو ته جواب ورکړی.

الف: یو کال څو ورځی لری؟ ب: په یوه کال کی څو فصلونه شته؟ ج: یو فصل څو میاشتی لری؟

د: یوه اوونی څو ورځی لری؟ هـ: یوه ورځ څو ساعتونه لری؟

۲- د هفتی ورځی په ترتیب سره ولیکی.

		دو شنبه	سه شنبه			جمعه

۳- د کال میاشتی په ترتیب سره ولیکی.

محرم الحرام		ربیع الاول			جمادی الاخر
رجب المرجب			شوال المکرم	ذوالقعدة الحرام	

٤- وخت د شکلونو له رویه ولیکی.

الف: 

ب:

ج: 

د: 

٥- ډیره نژدی د حرارت درجه انتخاب کړی

(١) د وجود حرارت:

الف: ٨٠ درجه سانتی ګرېد ب: ٣٧ درجه سانتی ګرېد ج: ١ درجه سانتی ګرېد

(٢) ښه هوا:

الف: ٢٠ درجه سانتی ګرېد ب: ٤٠ درجه سانتی ګرېد ج: ٥ درجه سانتی ګرېد

(٣) د ژمی سړی ورځی:

الف: ٠ درجه سانتی ګرېد ب: ٣٤ درجه سانتی ګرېد ج: ٢٥ درجه سانتی ګرېد

(٤) ډیره ګرمه هوا

الف: ٤٠ درجه سانتی ګرېد ب: ٢٥ درجه سانتی ګرېد ج: ٣٢ درجه سانتی ګرېد

٦- نبی د ماښام پر ٨:٤٥ په مطالعه پیل وکړ. هغه د دوو ساعتو نو لپاره سبق وواید. هغه سبق ویل پر څو بجو ختم کړ؟

٧- د حرارت درجه د سهار پر ٦ بجو ٢٥ درجی سانتی ګرېډ وه. تر لسو بجو پوری هغه ١٠ دوجی نوره هم زیاته شوه. پر ١٢ بجو د غرمی باران وشو او د حرارت درجه ٨ درجی راټیټه شوه. پر ١٢ بجو د حرارت درجه څو ډرجی وه؟

هدف: د وخت د اندازه کولو په اړونده د قابلیت ارزیابی

۱- په یو قمری کال کی څو ورځی سته؟

۲- د مخه او وروسته میاشت یې ولیکی.

الف: صفرالمظفر

ب: ذوالقعدة الحرام

ج: شوال المکرم

د: ذی الحجه الحرام

۳- ډیر نژدی د حرارت درجه انتخاب کړی. (الف، ب یا ج)

	دسانتی ګرېډ درجه	دسانتی ګرېډ درجه	دسانتی ګرېډ درجه
(۱) تو دو جامو ته اړتیا شته:	الف: ۵	ب: ۲۵	ج: ۳۵
(۲) د اوړی نازکو جامو ته اړتیا شته:	الف: ۷۰	ب: ٤۰	ج: ۱۰
(۳) شګوفه غوړیږی:	الف: ۰	ب: ۲۰	ج: ٤۰
(٤) اوبه جوشیږی:	الف: ۱۲۰	ب: ۱۰۰	ج: ۰
(۵) ونی پانی رژوی:	الف: ۵	ب: ۱۵	ج: ۳۵
(٦) اوبه یخی کیږی:	الف: ۱۰۰	ب: ۲۵	ج: ۰

٤- مخکنی او وروستی ورځی یې ولیکی.

الف: دوشنبه

ب: پنجشنبه

ج: شنبه

د: سه شنبه

۵- وخت ولیکی

الف:

ب:

هدف: د مربع د ضلع پیدا کول

زده کړه

د یوه شکل محیط د هغه د شاوخوا د فاصلې څخه عبارت دی.

مثال:

د یوه مربع شکله باغ محیط پیدا کړی

کله چې یو اړخ یا یوه ضلع یې ۳۰ متره اوږده وی.



د یوی مربع محیط = ۳۰ + ۳۰ + ۳۰ + ۳۰ = ۱۲۰ متر

یا ۳۰ × ٤ = ۱۲۰ متر

د مربع محیط = ضلع × ٤

د مربع د یوی ضلع پیدا کولو لپاره موږ محیط پر ٤ ویشو.

د یوی مربع محیط = ۲۸ سانتی متر

یوه ضلع یې = ۲۸ سانتی متر ÷ ٤ = ۷ سانتی متر

مشق:

محیط یې معلوم کړی.

الف:



ب:



ج:



د:



٢- جدول بشپړ کړی:

د مربعی ضلع	د مربعی محیط
٤ سانتی متر	
	٢٨ سانتی متر
٨ سانتی متر	
	٢٤ سانتی متر
٥ سانتی متر	

٣- د یوی مربع محیط معلوم کړی کله چی یوه ضلع یې ٣٥ متره وی؟

٤- د یوی مربع محیط معلوم کړی کله چی یوه ضلع یې ٥٠ سانتی متره وی؟

٥- د یوی مربع ضلع معلومه کړی کله چی محیط یې ٢٤٠ متره وی؟

هدف: د یوه ځلور ضلعی (مستطیل) یوه ضلع پیدا کول

زده کړه

د یوه شکل محیط د هغه د شاوخوا د فاصلی څخه عبارت دی.

لومړی مثال: رحیم غواړی چی خپل د باغ پر شاوخوا کټاره راتاو کړی. د هغه باغ ۱۰۰ متره پراخوالی او ۲۰۰ متره اوږدوالی لری. څومره متره کټاری ته اړتیا لری؟



محیط = اړخ + اړخ + اړخ + اړخ

محیط = ۱۰۰ + ۲۰۰ + ۱۰۰ + ۲۰۰ = ۶۰۰ متر

محیط = ۲ × پراخوالی + اوږدوالی

۱/۲ محیط = پراخوالی + اوږدوالی

پراخوالی = ۱/۲ محیط − اوږدوالی

اوږدوالی = ۱/۲ محیط − پراخوالی

دوهم مثال:

د یوی قالین محیط ۲٤ متره دی. پسور یې ٤ متره دی.

د قالین اوږدوالی معلوم کړی؟



اوږدوالی = ۱/۲ محیط − پسور

اوږدوالی = $\frac{۲٤}{۲}$ − ٤

اوږدوالی = ۱۲ − ٤ = ۸ متر

مشق:

۱ − د لاندینیو مستطیل شکلونو محیط معلوم کړی.

الف:



ب:



ج:



د:



هدف: د قرض سره د ۵ او ٦ رقمی عددونو د تفریق تکرار

زده کړه

کله چی موږ لوی عددونه یو له بله څخه تفریق کوو نو یویزونه، لسیزونه، سلیزونه، زریزونه او لس زریزونه رقمونه یو تر بل لاندی لیکو او ځینی رقمونه په بیلابیلو ګروپونو تبدیل کوو.

د مثال په توګه:

۸۲۱۳٥
- ٦۳٦۲٦

سلیزونه او زریزونه بیا ګروپ کوو	یویزونه یو له بل څخه تفریق کوو	لسیزونه بیا ګروپ کوو
۲۱٤	۲۱٤	۷۱۱۱۱۲۱٤
۸۲۱۳٤	۸۲۱۳٤	۸۰۲ ~~۳~~ ~~۱~~ ~~٤~~
- ٦۳٦۲٦	- ٦۳٦۲٦	- ٦۳ ٦۲٦
	۸	۸

وروسته لسیزونه، سلیزونه او زریزونه یو له بله څخه تفریق کوو.

۷۱۱۱۱۲۱٤
~~۸~~ ~~۲~~ ~~۱~~ ~~۳~~ ~~٤~~
- ٦۳٦۲٦
۱۸٥۰۸

مشق:

۱- جدول کاپی کړی او بیا نامعلوم عددونه پکی ولیکی.

٦٥۹,۰٤۳	−		=	۳۲٥,۷۹۳
−				−
				۲۱٤٥٦۲
=				=
۳,۰۲۹	=		−	

۲- اندازی پیدا کړی او خالی ځایونه ډک کړی.

د مستطیل محیط	پسور	اوږدوالی
۳۰ متر		۸ متر
۲۲ متر	۳ متر	
	۵ متر	۱۲ متر
۵۰ متر	۱۰ متر	
	۲۰ متر	۳۰ متر

۳- شبنم یوه قالینه لری. د قالینی پسور ٤ متره او اوږدوالی یې ۸ متره دی . هغه غواړی چې پرشا وخوایې یو فیته نصب کړی. هغه ددی فیتی څومتره ته اړتیا لری؟

٤- پروین غواړی ی یو عکس ته چوکاټ ورکړی. د عکس محیط ٤۸ سانتی متره دی. هغه د عکس د اوږدوالی لپاره ۱٦ سانتی متر لرگی ته اړتیا لری. هغه باید د عکس د پسور لپاره څو متره لرگی قطع کړی؟

هدف: د مثلث د ضلع پیدا کول

زده کړه

لومړی مثال: حبیبه د منیو یو باغ لری چی مثلث شکله دی. هغی غواړی چی د هغه پر شاخوا کتاره (احاطه) جوړه کړی. هغی څو متره اغزی لرونکی سیم ته اړتیا لری؟



د مثلث محیط = ضلع + ضلع + ضلع = ۳۰ + ٤۰ + ۵۰ = ۱۲۰ سانتی متر

د یو ضلعی د پیدا کولو لپاره موږ محیط او دوو نورو ضلعو په هکله معلومات ته اړتیا لرو.

دوهم مثال: د وه مثلث شکله د ګلانو د کرد محیط ۲٤ متره دی. دوی ضلع یې ۲ متره او ۳ متره اوږدوالی لری. تاسی یې د دریمی ضلع اوږدوالي معلوم کړی؟



ضلع = محیط - (ضلع + ضلع)

ضلع = ۲٤ - (٦ + ۸) = ۲٤ - ۱٤ = ۱۰ متر

مشق:

۱- اندازی پیدا او خالی ځایونه ډک کړی.

مثلث			
ضلع	ضلع	ضلع	محیط
۵ سانتی متر	۷ سانتی متر	٦ سانتی متر	
۹ سانتی متر		۸ سانتی متر	۲٤ سانتی متر
	٦ سانتی متر	٤ سانتی متر	۱۵ سانتی متر
۸ سانتی متر	٤ سانتی متر		۱۷ سانتی متر
۳ سانتی متر	۵ سانتی متر	٦ سانتی متر	
۵ سانتی متر	۵ سانتی متر		۱۵ سانتی متر
٦ سانتی متر	٤ سانتی متر	۷ سانتی متر	
	٤ سانتی متر	٤ سانتی متر	۱۲ سانتی متر
۷ سانتی متر	۹ سانتی متر	۵ سانتی متر	
٤ سانتی متر		۵ سانتی متر	۱۷ سانتی متر

۲- د گل گلابو د یوه مثلثی شکل د پټی محیط معلوم کړی کله چه یو اړخ یې ۱۸ متره او هغه نور دواړه اړخه یې ۴۰ متره وی؟

۳- مریم غواړی چی د گلابو د پټی پر شا وخوا چې ۳ ارخونه لری گلان شنه کړی. د گلابو د پټی هریو اړخ ۵ متره اوږد دی. د گلانو د پټی محیط یې معلوم کړی؟

۴- د یوه مثلثی شکله گلانو د پټی محیط ۱۸ متره دی. دوه اړخه یې ۱۱ متره اوږده دی. م دریم اړخ اوږدوالی یې معلوم کړی؟

هدف: د دایرې د محیط معرفي کول

زده کړه

شعاع (r):

د دایرې شعاع د دایرې د مرکز او د محیط ترمینځ فاصله ښیئ.



قطر (d):

د دایرې قطر د محیط د یوې خوا څخه تر بلې خوا پورې هغه فاصله ده چې د مرکز څخه تیره شوې وي.



قطر = شعاع × ۲

π ° یو ثابت عدد دی چې ۲۲/۷ قیمت لري او د دایرې د محیط او مساحت ~~د معلومولو~~ لپاره استعمالیږي.

محیط:

د دایرې محیط د دایرې د شاوخوا فاصلې څخه عبارت دی. د دایرې محیط = قطر × π

مثال: د لاندینۍ دایرې محیط معلوم کړئ.



قطر = ۲ × ۷ = ۱٤سانتي متر

محیط = قطر × π

محیط = ۱٤ × $\frac{۲۲}{۷}$ = $\frac{۲۲ \times ۱٤}{۷}$ = ٤٤ سانتي متر

محیط = ٤٤ سانتي متر

مشق:

۱- لاندی جدول بشپړی کړی.

شعاع	قطر	محیط
	۱٤ متر	٤٤ متر
۱٤ متر	۲۸ متر	
۲۱ متر		۱۳۲ متر
۲۸ متر	٥٦ متر	
	۷۰ متر	۲۲۰ متر

۲- ناصر د ګلانو یو دایروی پټی په خپل باغ کی لری. قطر یې ۷ متره دی. هغه غواړی چی یوه کټاره د هغه پر شاوخوا را جوړه کړی. هغه څو متره اغزی لرونکی سیم ته اړتیا لری؟

۳- احمد یوه ټوټه ځمکه را نیوله چی دایروی شکل لری. شعاع یې ٥٦ متره ده. د ځمکی محیط معلوم کړی؟

هدف: د محیط او اضلاعو تکرار

زده کړه

د یوه شکل محیط د هغه د شاوخوا فاصله ده.

د مربع محیط = ضلع × ٤

د مستطیل محیط = ۲ (پسور + اوږدوالی)

د مثلث محیط = ضلع + ضلع + ضلع

د دایرې محیط = $\frac{۲۲}{۷}$ × قطر

مشق:

۱- اندازې بشپړې کړې.

	۱ ضلع	۲ ضلع	۳ ضلع	٤ ضلع	محیط
الف:	٤ سانتی متر				۱٦ سانتی متر
ب:	۵ سانتی متر	۷ سانتی متر			۲۱ سانتی متر
ج:	۲ سانتی متر	۵ سانتی متر			۱٤ سانتی متر
د:	۸ سانتی متر				۳۲ سانتی متر
هـ:	٦ سانتی متر	۵ سانتی متر	۵ سانتی متر		
و:	۹ سانتی متر				۲۳ سانتی متر

۲- اندازې بشپړې کړې.

	شعاع	قطر	محیط
الف	۷ سانتی متر		٤٤ سانتی متر
ب	۲۱ سانتی متر	٤۲ سانتی متر	
ج		۷۰ سانتی متر	۲۲۰ سانتی متر

۳- نجیبه یو مستطیل شکله د ګلانو پټی لری. پسور یې ۷۰ متره او اوږدوالی یې ۱۰۰ متره دی. د ګلانو د پټی محیط معلوم کړی؟

٤- پروین غواړی چی د خپلو ګلانو پر شاخوا کټاره را تاو کړی. هغه دری مساوی اړخونه لری. محیط یې ۲٤ متره دی. د ګلانو د پټی د یوی خوا (اړخ) اوږدوالی معلوم کړی.

۵- یعقوب د لامبو حوض لری. د هغه قطر ۱۰ متره دی. هغه غواړی چی د حوض پر شاوخوا تړ ۲ مترو پوری ونی کښیږدی. دونو پر شاوخوا محیط معلوم کړی.



هدف: د محیط او اضلاعو ارزیابی

۱- اندازی محاسبه با بشپړی کړی.

	۱ ضلع	۲ ضلع	۳ ضلع	٤ ضلع	محیط
الف:	۹ سانتی متر				۳٦ سانتی متر
ب:	٤ سانتی متر		۷ سانتی متر		۱٦ سانتی متر
ج:	۲ سانتی متر	۵ سانتی متر			۱٤ سانتی متر
د:	۸ سانتی متر		۵ سانتی متر		۱۸ سانتی متر
هـ:			۵ سانتی متر		۱۸ سانتی متر
و:			٤ سانتی متر	۸ سانتی متر	۲٤ سانتی متر

۲- فاطمه غواړی د چرګانو لپاره یوه کوډله جوړه کړی چی ۳ متره پراخه او ۵ متره اوږده وی. د هغی محیط معلوم کړی.

۳- د حمیدی دستمال مربع شکله دی. یو طرف یې ۸۰ سانتی متر دی. د هغی د دستمال محیط معلوم کړی.

٤- د یوه مثلث شکله د ګلانو د پټۍ محیط ۱٤ متره دی. دوه اړخونه یې مجموعاً ۸ متره اوږده دی. د هغه د دریم اړخ اوږدوالی معلوم کړی.

۵- رابعه غواړی چی د خپل دایروی شکله سرمېزی پر شاوخوا څنډه وکنډی. چی د هغی شعاع ۵٦ سانتی متره اوږده وی، د څنډی ټول اوږدوالي معلوم کړی؟

هدف: د مربع د مساحت معرفي

زده کړه

موږ د یوې مربع مساحت د هغه د داخلي مربعو د شمیرلو له رویه پیدا کوو. یا دا چې د هغې ضلعې یو په بل کې ضرب کړو. مساحت په مربع واحدونو سره ښودل کیږي.



په پورتني شکل کې ۲۵ کوچني مربعو شته چې هر یوه یې ۱ سانتي متر^{۲} دی. نو د پورتني شکل ۲۵ سانتي متر مربع دی. هره ضلع یې ۵ سانتي متر اوږده ده. موږ هغه یو له بل سره ضربوو. (ضلع × ضلع) = ۵ × ۵ = ۲۵ د پورتني شکل مساحت ۲۵ سانتي متر مربع دی.

مشق:

۱- لاندینی اندازې بشپړې کړی.

ضلع × ضلع	د مربعي مساحت
٤ سانتي متر ×	١٦ سانتي متر مربع
٦ سانتي متر × ٦ سانتي متر	
٨ سانتي متر ×	٦٤ سانتي متر مربع
٧ سانتي متر × ٧ سانتي متر	

۲- د یو مربع مساحت پیدا کړی چې یو ضلع یې ٤ سانتي متره وي.

۳- احمد یوه مربع شکله د ګلانو باغ لري چې یو ضلع یې ۵۰ متره دی. هغه غواړي چې د هر ضلع خواته ۲ متره خالیګاه د ونې د کښینولې لپاره پریږدي. د هغه د باغ مساحت څومره به وي؟



هدف: د مستطیل د مساحت معرفی کول

زده کړه

د مستطیل د مساحت د پیدا کولو لپاره موږ پسور په اوږدوالی کې ضربوو. د شکل مساحت په مربع واحدونو سره ښودل کیږي:



د مستطیل مساحت = پسور × اوږدوالی = ۸ سانتی متر × ۵ سانتی متر = ۴۰ سانتی متر مربع

د مستطیل د اوږدوالی یا پسور د معلومولو لپاره موږ مساحت پر پسور یا اوږدوالی ویشو.

مساحت = ۴۰ سانتی متر مربع، اوږدوالی = ۸ سانتی متر

پسور = ۴۰ ÷ ۸ = ۵ پسور = ۵ سانتی متر

مشق:

۱- خالی ځایونه په صحیح اندازه ډک کړی.

دمستطیل مساحت	اوږدوالی		پسور
	۶ سانتی متر	×	۶ سانتی متر
	۶ سانتی متر	×	
۴۲ سانتی متر^2		×	۶ سانتی متر
	۹ سانتی متر	×	
۳۲ سانتی متر^2		×	۴ سانتی متر
	۶ سانتی متر	×	

۲- د ملګرو ملتونو د مهاجرینو دفتر د پاکستان له صوبه سرحد څخه د افغانی مهاجرینو د بیا سستنیدو لپاره لاندنې پلان جوړ کړی دی. نامعلوم عددونه پکې ولیکی. البته جدول پخپلو کتابچو کې کاپی کړی.

کال	ټول مهاجرین	ستیندونکی	پاته
۲۰۰۰	۹۸۹,۸۲۳	۲۱۳,۲۱۹	
۲۰۰۱	۷۷٦,٦۰٤	۱۱[illegible],۲۱۵	
۲۰۰۲	٦٦٦,۳۸۹	۱۰۰,٤۱۱	
۲۰۰۳	٥٦٥,۹۷۸	۱۱٤,۸۹۲	
۲۰۰٤	٤٥۱,۰۸٦	۲٤۱,۰٤۳	
۲۰۰٥	۲۱۰,۰٤۳	۱۰۰,۰٤۳	

۲- د یوه مستطیل مساحت معلوم کړی کله چی اوږدوالی یې ٦ سانتی متره او پسور یې ۳ سانتی متره وی؟

۳- د یوی کوټی مساحت معلوم کړی کله چی اوږدوالی یې ۱۲ متره او پسور یې ٤ سانتی متره وی؟

٤- خوږه غواړی چی د خپلی کوټی لپاره یوه قالینه رانیسی. د کوټی اوږدوالی ٦ متره او پراخوالی یې ٤ متره وی. هغه غواړی چی هر طرف ته یو متر فاصله پریږدی او بیا پاته برخه په قالین فرش کړی. د خوږی د قالین مساحت به څومره وی؟



هدف: د مستطیل او مربع د مساحت تکرار

زده کړه

د مربع مساحت = ضلع × ضلع
د مستطیل مساحت = طول × عرض
د مستطیل د عرض (پسور) د معلومولو لپاره مور مساحت پر طول (اوږدوالی) تقسیموو.
د مستطیل د طول د معلومولو لپاره مور مساحت پر عرض تقسیموو.

مثال:

مساحت = ۱۶۸ متر^{۲} ÷ طول = ۱٤ متر

عرض = ۱٦۸ متر^{۲} ÷ ۱٤ متر = ۱۲ متر

د مربع د یوی ضلع د معلومولو لپاره مور یو عدد چی په خپل ځان کی ضرب شوی وی، په نظر کی نیسو چی هغه یې ضلع ده.

مثال:

مساحت = ۱٦ متر^{۲} ÷ ضلع = ٤ متر

مساحت = ۹ متر^{۲} ÷ ضلع = ۳ متر

مساحت = ۲۵ متر^{۲} ÷ ضلع = ۵ متر

مساحت = ۳٦ متر^{۲} ÷ ضلع = ٦ متر

مشق:

۱- د طول یا عرض د پیدا کولو سره، جدول بشپړی کړی.

مساحت	ضلع	ضلع
۲۷ متر^{۲}	۹ متر	
۲٤ سانتی متر^{۲}		٤ سانتی متر
۷۲ سانتی متر^{۲}		٦ سانتی متر
۸۸ متر^{۲}	۱۱ متر	

۲- اندازې بشپړې کړې.

مساحت	ضلع	ضلع
	۲۲ متر	۲۲ متر
۳۰۰ سانتی متر ۲	۱۵ سانتی متر	
۳۲٤ سانتی متر ۲		۱۸ سانتی متر
۱۱۲۰ متر ۲	۳۲ متر	
	٤۱ سانتی متر	٤۲ سانتی متر
۲٥٦ متر ۲		۱٦ متر

۳- د یوې قالین مساحت معلوم کړې، کله چې طول (اوږدوالی) یې ٤ متره او عرض (پسور) یې ۳ متره وی.

٤- د ولې د کښت اوږدوالی ۸۸ متره او پسوریې ۷۰ متره دی. مساحت یې معلوم کړې.

٥- نذیر یو مربع شکله باغ لری. د باغ هر طرف ۷۷ متره دی. د باغ مساحت معلوم کړې.

دئوابونو کلي

هدف: د مربع او مستطیل د مساحت په اړونده ارزیابی

۱- اندازی بشپړی کړی او خالي ځایونه ډک کړی.

مساحت	ضلع	ضلع
۱۶ سانتی متر ۲	٤ سانتی متر	
	٦ متر	٦ متر
٦٤ سانتی متر ۲		۸ سانتی متر
٥٤ سانتی متر ۲	۹ سانتی متر	
٤۸ متر ۲		٤ متر
٦۳ سانتی متر ۲	۹ سانتی متر	
	۸ سانتی متر	۳ متر
۱۲۰ سانتی متر ۲		۱۲ سانتی متر
	۲۰ متر	۲٥ متر
۲۲٥ سانتی متر ۲	۱٥ سانتی متر	
۹٦ سانتی متر ۲		۱۲ سانتی متر

۲- نصیر یوه مربع شکله کوټه لری. د کوټی هر طرف ٤ متره دی. د کوټی مساحت معلوم کړئ.

۳- خوګی د چرګانو لپاره یو مربع شکله ځای جوړ کړ چی هر طرف یې ۷ متره دی. مساحت یې معلوم کړی.

٤- نازیه یو باغ لری چی ۹۲ متر اوږد او ۸۱ متر پراخ دی. د باغ مساحت معلوم کړی.

۱-

الف: ۵,۲۳٤ ب: ۳,۵۷۲ ج: ٦,٤۵۳

۲-

یویزونه			زریزونه		
یویز	لسیز	سلیز	زریز	لس زریز	سل زریز
۵	۱	۲	۸		
٦	۷	٤	۹		
۸	۳	۹	٦		
۳	٤	۵	۸		
۵	۰	۰	۷		
۲	۰	٦	۹		

۳-

الف: نه زره اته سوه پنځه شپیته ب: اته زره اته اویا

ج: شپږ زره دوه سوه دیرش د: اوه زره اته سوه نه

۱-

الف: ٤,۲۱۵ ب: ۵,۲۳٤ ج: ۳,۵۵۳ د: ٦,٤۵۳

۲-

الف: ۵٦,۳٤۵ ب: ۵۵,٤٤٦ ج: ٦٤,۳۲۲

۳-

الف: ۹,۷٤۸ ب: ۸,٦۸۹

٤-

الف: سلیز ب: لسیز ج: یویز

۱-

الف:



۵٦۰٤۰

ب:



۱۰۰٦۷

ج:



۵٤۰۰۳

۲-

یویز	لسیز	سلیز	زریز	لس زریز	
۱	٤	۰	۳	۵	۵۳,۰٤۱
۳	٤	۲	۰	٦	٦۰,۲٤۳
۵	۰	٤	۵	۳	۳۵,٤۰۵
٤	۰	٦	۰	۷	۷۰,٦۰٤

۳-

مواد	مقدار	قیمت
اوړه	۷ کیلو	۱۳۰,۵۰۰
چای	۱ کیلو	۱۲۰,۳۰۰
بوره	۷ کیلو	۱٤۳,۰۵۰
غوښی	۷ کیلو	٤۹۰,۲٦۰

٤-

الف: ۱۸۲,۰۹۰ ب: ۹۵۰,٦۲۰ ج: ۳۷۰,٤۸۹ د: ۵٦۰,۰۸۰
هـ: ۷۸۰,۰۸۸ و: ۹۹,۹۹۹ ز: ۱٦۸,۵۰۹ ح: ۵۹۷,۰٦۰
ط: ٦۹۷,۰٦۰ ی: ۲۹۹,۱۰۰ ك: ۱۷۰,۹۱۰ ل: ۹۸۰,۱۱۰
م: ۳۸۵,۳۰۰

١- ٧٨,٩٧٨

٢- ٤٩٥,٢٩٩

٣-

٣٢٧,٥٥٥	=	١٢٤.١٣	+	٢.٣٥٤٢
+				
١.٢٢٣١				
=				
٤٢٩,٧٨٦	+	٢٣٠١.٢	=	٦٥٩,٨٨٨
				+
				١٢.١.١
				=
				٧٧٩.٩٨٩
				+
		٨٩٩,٩٩٩	=	١٢٠.١٠

١-

الف:



ب:



ج:



٢- ٦٢٣,٤٢١

٣- ٥١٢,٢٣١

هدف: *تر میلیون پوری عددونه ولوستلای او ولیکلای شی.*

زده کړه

کله چی مور د ښارونو، ایالتونو او یا مملکتونو د نفوس په هکله خبری کوو، نو مور لوی عددونه استعمال کوو. د مثال په توګه د ترکمنستان نفوس ۲۲۹,۲۴۹,٤ تنه یا څلور میلیونه، دوه سوه نه ویشت زره او دوه سوه نه څلویښت تنه دی. د کویټ نفوس ۱,۸۳٤,۲٦۹ یا یو میلیون اته سوه څلور دیرش زره او دوه سوه نه شپیته تنه دی. د عمان نفوس ۲,۲۸۳,۳۲٤ یا دوه میلیونه دوه سوه دری اتیا زره او دری سوه څلورویشت تنه دی.

ترکمنستان



٤ ۲ ۲ ۹ ۲ ٤ ۹

کویټ



۱ ۸ ۳ ٤ ۲ ٦ ۹

عمان



۲ ۲ ۸ ۳ ۳ ۲ ٤

مور کولای شو چی همدغه نفوس په یوه جدول کی هم وښیو.

د مملکت نوم	یویز	لسیز	سلیز	زریز	لس زریز	سل زریز	میلیون	لس میلیون	سل میلیون
د ترکمنستان نفوس	۹	٤	۲	۹	۲	۲	٤		
د کویت نفوس	۹	٦	۲	٤	۳	۸	۱		
د عمان س نفوس	٤	۲	۳	۳	۸	۲	۲		

مشق:

۱- چوت رسم کړی او بیا عدد په کې وښیاست.

مثال تعقیب کړی.



۱ ۲ ۳ ۵ ۲ ٤ ۰

الف:



۸ ۷ ۲ ۹ ۱ ۱ ۰

ب:



۱ ۲ ۱ ۰ ۵ ۱ ٦

١- ٦٨٨,٥٢٨ افغانۍ

٢-



٣-

دزلمی ټول عاید: ٢٣٣,١٤٥

دزلمی ټول پس انداز: ٤٦٣,٤٤٤

ځلورم ټولګی — جمع ٨

١-

الف:



ب:

٢-

الف: ٩٦٣,١٣٤ ب: ٩٣٦,١٣٤ ج: ٩٤٠,٥١١

٣- ٦٤٦,١٩٢ افغانۍ

۱-

۳۲۵,۷۹۳	=	۳۳۳,۲۵۰	-	۶۵۹,۰۴۳
-				-
۲۱۴,۵۶۲				۶۵۶,۰۱۴
=				=
۱۱۱,۲۳۱	-	۱۰۸,۲۰۲	=	۳,۰۲۹

۲-

کال	تول‌مهاجرین	ستیندونکی	پاته
۲۰۰۰	۹۸۹,۸۲۳	۲۱۳,۲۱۹	۷۷۶,۶۰۴
۲۰۰۱	۷۷۶,۶۰۴	۱۱۰,۲۱۵	۶۶۶,۳۸۹
۲۰۰۲	۶۶۶,۳۸۹	۱۰۰,۴۱۱	۵۶۵,۹۷۸
۲۰۰۳	۵۶۵,۹۷۸	۱۱۴,۸۹۲	۴۵۱,۰۸۶
۲۰۰۴	۴۵۱,۰۸۶	۲۴۱,۰۴۳	۲۱۰,۰۴۳
۲۰۰۵	۲۱۰,۰۴۳	۱۰۰,۰۴۳	۱۱۰,۰۰۰

۱-

الف:



ب:



۲-

	یویز	لسیز	سلیز	زریز	لس زریز	سل زریز	ملیون	لس ملیون	سل ملیون
۱,۲۳۹,۸۲۲	۲	۲	۸	۹	۳	۲	۱		
۹,۲۳۰,۸۷۰	۰	۷	۸	۰	۳	۲	۹		
۸,۹۷۸,۲۱۱	۱	۱	۲	۸	۷	۹	۸		
۲,۳۱۲,۱۰۱	۱	۰	۱	۲	۱	۳	۲		
۱,۰۰۱,۹۷۸	۸	۷	۹	۱	۰	۰	۱		

۳-

الف: ۲,۳۱۲,۵۱۶، ۲,۳۱۲,۵۰۰، ۲,۱۸۱,۵۱۶، ۲,۱۸۱,۲۰۰، ۲,۱۰۱,۹۰۰، ۲,۱۸۷,۱۰۰، ۲,۹۰۰,۱۰۰

ب: ۳,۶۳۰,۱۰۰، ۳,۴۴۱,۱۰۰، ۳,۱۳۶,۱۳۶، ۳,۴۴۵,۲۰۰

٤-



٥-

الف: ۲,۳۰۰,۰۰۰ ب: ۹,۱۲۱,۰۰۰

٦-

الف: ۴,۱۱۱,۲۰۰ < ۴,۲۱۱,۲۰۰

ب: ۳,۱۲۰,۱۰۰ > ۳,۱۱۰,۱۰۰

ثلورم تولگی — جمع او تفریق ۱۱

۱-

الف: ۷,۱۱۲,۸۰۰ ب: ۳,۱۸۷,۹۰۰ ج: ۱۲,۸۱۰,۱۰۰ د: ۷,۸۱۰,۱۰۰

هـ: ۱۸,۸۱۰,۱۰۰

۲-



۳-

الف: ۱۰,۴۰۰,۰۰۰ ب: ۱,۰۰۰,۰۰۰ طاهر ج: ۸,۳۰۰,۰۰۰ د: ۲۲,۴۰۰,۰۰۰

هـ: ۷,۳۰۰,۰۰۰ و: ۱۵,۱۰۰,۰۰۰ ز: ۷,۳۰۰,۰۰۰

۱-



۳ ۵ ۸ ۷ ۶ ٤ ۱ + ۵ ۲ . ۲ ۱ ۱ ۷ = ۸ ۷ ۸ ۹ ۷ ۵ ۸

بنار	یویز	لسیز	سلیز	زریز	لس زریز	سل زریز	میلیون	لس میلیون	سل میلیون
سروبی	۳	۵	۸	۷	٦	٤	۱		
پغمان	۵	۲	.	۲	۱	۱	۷		
مجموعه	۸	۷	۸	۹	۷	۵	۸		

۲-

کال	یویز	لسیز	سلیز	زریز	لس زریز	سل زریز	میلیون	لس میلیون	سل میلیون
۱۹۷۸	.	۷	٦	۵	٤	۳	۱		
۱۹۷۹	٦	۲	۱	٤	۵	٤	۸		
مجموعه	٦	۹	۷	۹	۹	۷	۹		

۳-



. ۲ ۵ ٦ ۷ ۳ ٤ + ۱ . ۳ ۲ . ۲ ۱ = ۱ ۲ ۸ ۸ ۷ ۵ ۵

۱- ۵,۴۰۰,۹۶۹

۲- ۴۴۸,۲۴۸

۳-

۷,۳۰۵,۳۰۱	-	۳,۲۲۱,۴۵۴	=	۴,۰۸۳,۸۴۷
-		-		-
۴,۴۵۹,۷۰۲	-	۲,۳۶۶,۴۵۳	=	۲,۰۹۳,۲۴۹
=		=		=
۲,۸۴۵,۶۰۸	-	۸۵۵,۰۰۱	=	۱,۹۹۰,۵۹۸

۱-

الف: ۵۹۵,۵۵۳ ب: ۱۱۱,۹۴۴ ج: د هرات نفوس

۲-

۷,۶۵۸,۳۴۲	+	۲,۱۳۱,۶۴۵	=	۹,۷۸۹,۹۸۷
+				-
۲,۱۳۱,۶۴۵		۷,۶۵۸,۳۴۲		۲,۱۳۱,۶۴۵
=				=
۹,۷۸۹,۹۸۷	-	۲,۱۳۱,۶۴۵	=	۷,۶۵۸,۳۴۲

۱-

الف: ۲ × ٤ = ۸ ب: ۳ × ٤ = ۱۲ ج: ۲ × ۳ = ٦ د: ٦ × ٤ = ۲٤

هـ: ٤ × ٥ = ۲۰ و: ۸ × ٥ = ٤۰ ز: ۹ × ۳ = ۲۷

۲-

دنخودو پوښ شمیر	۱	۲	۳	٤
دنخودو شمیر	٥	۱۰	۱٥	۲۰

۳-

×	۱	۲	۳	٤	٥	٦	۷	۸	۹
۱	۱	۲	۳	٤	٥	٦	۷	۸	۹
۲	۲	٤	٦	۸	۱۰	۱۲	۱٤	۱٦	۱۸
۳	٤	٦	۹	۱۲	۱٥	۱۸	۲۱	۲٤	۲۷
٤	٤	۸	۱۲	۱٦	۲۰	۲٤	۲۸	۳۲	۳٦
٥	٥	۱۰	۱٥	۲۰	۲٥	۳۰	۳٥	٤۰	٤٥

۱-

الف: ۷ × ۷ = ٤۹ ب: ۸ × ٦ = ٤۸ ج: ٦ × ٦ = ۳٦

۷ × ۷ = ٤۹ ۸ × ٦ = ٤۸ ٦ × ٦ = ۳٦

د: ۸ × ۷ = ٥٦ هـ: ۹ × ٦ = ٥٤

۸ × ۷ = ٥٦ ۹ × ٦ = ٥٤

۲-

الف:

×	٦	۷	٦	۷	۷	٦	٦	۷	٦	٦	۷	۷	۷
	٥	۷	۲	۳	٥	۳	۱	٦	۸	٤	۸	۹	۲
	۳۰	٤۹	۱۲	۲۱	۳٥	۱۸	٦	٤۲	٤۸	۲٤	۳٥	٦۳	۱٤

ب:

×	۸	۹	۷	۸	۹	۷	٦	۸	۹
٦	٤۸	٥٤	٤۲	٤۸	٥٤	٤۲	۳٦	٤۸	٥٤
۷	٥٦	٦۳	٤۹	٥٦	٦۳	٤۹	٤۲	٥٦	٦۳

۱-

الف: ۸ × ۳ = ۲٤ / ۳ × ۸ = ۲٤

ب: ۸ × ٤ = ۳۲ / ٤ × ۸ = ۳۲

ج: ۳ × ۸ = ۲٤ / ۸ × ۳ = ۲٤

د: ۵ × ۸ = ٤۰ / ۸ × ۵ = ٤۰

هـ: ۸ × ٦ = ٤۸ / ٦× ۸ = ٤۸

و: ۸ × ۹ = ۷۲ / ۹ × ۸ = ۷۲

۲-

۹	۸	۷	٦	۵	٤	۳	۲	۱
۸ ×	۸	۸	۸	۸	۸	۸	۸	۸
۷۲	٦٤	۵٦	٤۸	٤۰	۳۲	۲٤	۱٦	۸

۱- ۹ × ٤ = ۳٦ / ٤ × ۹ = ۳٦

۲- ۹ × ۳ = ۲۷ / ۳ × ۹ = ۲۷

۳- ۹ × ۵ = ٤۵ / ۵ × ۹ = ٤۵

٤- ۹ × ۵ = ٤۵ / ۵ × ۹ = ٤۵

۵-

الف:

۲۷	۹	۳
۷۲	۹	۸
۸۱	۹	۹
۵٦	۹	٦
٦۳	۹	۷

ب:

۹	۸	۷	٦	۵	٤	۳	۲	۱
۹	۹	۹	۹	۹	۹	۹	۹	۹
۸۱	۷۲	٦۳	۵٤	٤۵	۳٦	۲۷	۱۸	۹

۱-

